د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۲ لمریز کال

څلورم راپور



بسم الله الرحمن الرحیم

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
The Deputy PM for Economic Affairs Office

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د هېوادوالو نظرونه

(د ۱۴۰۲ل کال، د مرغومې لومړۍ - کب۲۹)

## تحلیلي راپور


**خېړونکی:** فضل ولي شیراني

**همکار خېړونکی:** محب الله نظیمي

**کتنپلاوی:** مولوي خالق داد تقي، احمدشاه راشد و امان الله حنیفي

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید



**ناشر:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل ـ افغانستان
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

# فهرست


د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ايران ته رسمي سفر وکړ ........................................................ ۱

د آمو نفتي حوزې له ۸ نويو څاګانو څخه د نفتو استخراج پرانيسته وشوه ........................................ ۱۱

د سالنګ لويه لار له رغونې وروسته پرانيستل شوه ........................................................................ ۲۰

د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکه اداره جوړه شوه ...................................................................... ۲۹

د دوه ميلياردو افغانيو په ارزښت د ترانسپورټ د درېيو پروژو تړونونه لاسليک شول .......................... ۳۹

د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونيکي سکنرونو د نصبولو طرحه منظوره شوه ....................... ۴۸

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ایران ته رسمي سفر وکړ



## سریزه

هر هېواد هڅه کوي چې د نړۍ د نورو هېوادونو سره اړیکي ټینګې کړي، ځکه نړۍ د یوه کلي حیثیت خپل کړی دی او یو له بل سره اړیکي ټینګول د هېوادونو پر سیاسي، اقتصادي او نورو برخو اغېزه لري او له مخې یې ددې برخو پرمختګ ته لاره هوارېږي. اسلامي امارت هم له نړۍ، سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره په سیاسي، اقتصادي او نورو برخو کې اړیکو ټینګولو ته مخه کړې. هڅه یې داده چې د اړیکو له لارې سیاسي، اقتصادي، سوداګریزې او نورې برخې پیاوړې کړي. په دې برخه کې لومړی له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو لړۍ پیل شوې ده. په دې هېوادونو کې د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او یو شمېر نورو ترڅنګ د افغانستان ګاونډي هېوادونه شامل دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړ پوړي امارتي پلاوي ایران ته سفر وکړ. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ایران ته د خپل شپږ ورځني سفر پرمهال د یاد هېواد د ولسمشر د مرستیال او بهرنیو چارو وزیر په ګډون د کورنیو چارو، د کرنې، انرژۍ له وزیرانو، امنیت شورا رئیس او په دې هېواد کې مېشت افغان پانګوالو، په چابهار پوهنتون کې له افغان محصلینو او په ایران کې د افغانستان سفارت له مسوولینو سره وکتل. په دې لیدنو کې د سوداګرۍ، صنعت، کانونو، تېلو، ترانزیټ، پانګونې، کرنې، سرحدي مسایلو، روغتیا، لارو او ښار جوړونې، مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ او دغه راز په ایران کې مېشت افغان کډوالو د ستونزو په اړه خبرې وشوې. ددې ترڅنګ محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او


مل پلاوي له چابهار بندر او يوشــمېر صنعتي او توليدي فابريکو هم ليدنه وکړه. د ســفر پرمهال په بېلا بېلو برخو کې يو شمېر هوکړه ليکونه هم لاسليک شول.

**د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ايران ته د رسمي سفر موخه:**

موخه يې له نړۍ په ځانګړې ډول ګاونډيو هېوادونو سره په سياسي او اقتصادي برخو کې د اړيکو ټينګول دي.

## په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ايران ته د رسمي سفر» خبر يې خپور کړی دی:


**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**




**د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:**





**يادونه:** ګراف کې پــه هغــو دولتــي او خصــوصي رســنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د رياســت الــوزراء اقتصــادي مرســتيال ايــران تــه د رســمي ســفر په اړه يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ١- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### ټویټرپاڼې





### ویاندویان





### ورځپاڼې





### تلویزیونونه





### راډیوګانې



### ویب پاڼې





### په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه




## ويب پاڼې





## بهرنۍ رسنۍ




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ايران ته د رسمي سفر په اړه په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتيا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نيوکې او وړانديزونه شريک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ایران ته د رسمي سفر خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۴۶۲۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۹۴۸ مثبت دي. ۱۳۱۳ منفي نظرونه او ۳۶۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۹ ٪، منفي ۹ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ایران ته د رسمي سفر خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۲۴۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۶۷۹ مثبت، ۱۱۳۷ منفي او ۴۲۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۳ ٪، منفي نظرونه ۱۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۹، خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۸۳ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۲ او په دولتي هغو کې بیا ۹ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۰۶۸۸ مثبت نظرونه، ۲۴۵۰ منفي نظرونه او ۷۹۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۶٪ مثبت نظرونه، ۱۰٪ منفي نظرونه او ۴ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ایران ته رسمي خبر په پراخه کچه د دولتي رسنیو له لوري خپور شوی دی. بله دا چې په دې خبر کې له ګاونډیو هېوادونو سره د اړیکو ټینګول شامل دي او د اړیکو په پراختیا سره د هېواد په اقتصادي برخه کې پرمختګونو ته هیلې زیاتیږي. نو طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتیږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کیږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسیږي.

- افغانستان به د ریل پټلۍ له لارې لومړی له ایران او بیا به له ترکیې او اروپا سره ونښلول شي. د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي همکارۍ او د سترو سوداګریزو هوکړه لیکونو لاسلیکول د دواړو لوریو په ګټه دي.
- له ایران سره زموږ اړیکې د افغانستان د اقتصادي ودې لامل ګرځي. له ګاونډیو په ځانګړي ډول ایران سره د پانګونې او سوداګرۍ زیاتوالی له اقتصادي کړکېچ څخه د وتلو له پاره غوره لار ده.
- اسلامي امارت باید په ډېر جدیت سره د افغانستان اقتصادي مسائل تعقیب کړي او له سیمې سره خپله سوداګري پراخه کړي څو د افغانستان ملت اقتصادي وده حس کړي. د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره تر ټولو غوره انتخاب له ګاونډیانو سره تعامل دی.
- چابهار بند له ایران او نورو هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لامل ګرځي.
- دا سفر د افغانستان او ایران د تجارتي پرمختیا لپاره ښه ګام دی. سیاسي اختلافات یې پر خپل ځای ولې اقتصادي روابط باید سم شي. د نړۍ د اکثرو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکي ټینګې او د سیاسي اړیکو د غښتلتیا لپاره هڅظ کیږي.
- افغانستان باید د واخان له لارې له چین سره ونښلول شي.
- زمونږ حکومتونه باید له ګاونډیانو سره په اړیکو کې نوښت وکړي، څکه نن او سبا ټول مناسبات د ملي منافعو پر اساس وي، څیرک حکومتونه او څیرک سیاسیون کولای شي چې خپل هېواد ځان بسیاینې ته ورسوي. نوي فرصتونه باید ومونډل شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې ویلي چې که افغانستان د رېل پټلۍ له لارې له ایران سره ونښلي، له دې لارې به بیا په اسانۍ سره اروپا او د نړۍ نورو هېوادونو ته لار پیدا کړي. د دوی نظر پر ځای دی او دا چاره د افغانستان په ګټه ده. خو اسلامي امارت په خپل شاوخوا دوه کلن مزل کې د افغانستان د ترانزیټي لارو او دغه راز د رېل پټلۍ په برخه کې زیاتې لاسته راوړنې درلودلې دي. دا مهال افغانستان د مزارشریف له لارې د ازبیکستان ترمذ، د فاریاب د اقینې بندر له لارې ترکمنستان او د هرات د اسلام کلا او تورغونډۍ بندرونو له لارې له ایران سره نښلول شوی دی. د افغان ټرانس د اوسپنې پټلۍ پروژه چې په اوسط ډول به په کال کې ۱۵ مېلیونه ټنه سوداګریز توکي ولیږدوي، په عملي کېدو سره به یې له یوه لوري مرکزي اسیا او سویلي اسیا سره ونښلول شي او له بل لوري به افغانستان خپل سوداګریز او صادراتي توکي منځنۍ اسیا او جنوبي اسیا هېوادونو ته په ټیټه بیه انتقال کړي او همدارنګه به له دغو هېوادونو څخه د اړتیا وړ توکي په کمه بیه وارد کړي چې دا خپله د اسیا د اتصال پر نقطې د هېواد د بدلېدو، د عوایدو د زیاتوالي، سوداګرۍ د پراختیا، اقتصادي ودې او د هېواد د پرمختګ او ترقۍ لامل ګرځي. اسلامي امارت په دې هم بسنه نه ده کړې او هڅه یې داده چې افغانستان پر یوه یا دوو هېوادونو له متکي کېدو څخه وباسي او د رېل پټلۍ په ګډون بېلا بېلې ترانزیټي لارې پیدا کړي او په دې سره افغانستان چې په وچه کې را ګیر هېواد دی، له بحر سره ونښلوي او سوداګري یې پراخه کړي.

**دویم**؛ ځینو کسانو بیا په خپلو نظرونو کې د ایران او افغانستان ترمنځ د اړیکو ټینګښت د هېواد د اقتصادي ودې له پاره ګټور بللي دي او ویلي یې دي چې د اړیکو په پراختیا سره به افغانستان له اقتصادي کړکیچ څخه په اسانۍ ووځي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د ګاونډیو او سیمې هېوادونو په ګډون د نړۍ له ټولو هېوادونو سره خپل اړیکي پراخ کړي. تل یې دا غږ پورته کړی دی چې افغانستان یو خپلواک هېواد دی او غواړي له نړۍ سره د متقابل احترام پر بنسټ د ډیپلوماتیکو اړیکو په ګډون په بېلا بېلو برخو کې روابط ولري. ایران ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سفر موخه هم داوه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې پراخې او لا غښتلې کړي. د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ایران ته د خپل سفر پرمهال د ایران له مسوولینو سره وکتل او د سوداګرۍ، صنعت، کانونو، تیلو، ټرانزیټ، پانګونې، کرنې، سرحدي مسایلو، روغتیا، لارو او ښار جوړونې، مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ او دغه راز په ایران کې مېشت افغان کډوالو د ستونزو په اړه یې خبرې وکړې. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت هڅه کوي چې له ګاونډیو هېوادونو سره خپل سوداګریز او اقتصادي اړیکي پراخ او پرمټ یې د افغانستان دې دواړو برخو ته وده ورکړي. د سوداګرۍ په پراختیا سره به خپله د افغانستان اقتصاد وده، صنعت به یې پیاوړی او په نورو برخو کې به یې پرمختګ رامنځته شي.

✍ **دربیم**؛ یو شمیر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د ایران د چابهار بندر اهمیت ته اشاره کړې او ویلي یې دي چې ددې بندر له لارې به افغانستان وکولای شي د ایران په شمول د نړۍ له نورو هېوادونو سره خپل سوداګریز اړیکې پراخ کړي. د دوی نظر د ستاېلو وړ دی، ځکه افغانستان باید هغه لارې پیدا کړي چې کولای شي په لنډ وخت او ارزانه بیه خپل صادراتي توکي د نړۍ تر بازارونو پورې ورسوي. ددې ترڅنګ تر هغې چې افغانستان اوبو ته لار پیدا نه کړي، دې موخې ته نه شي رسیدلی. اسلامي امارت له همدې امله هڅه کړې ده چې افغانستان له اوبو سره ونښلوي او له دې لارې خپلو سوداګریزو اړیکو ته پراختیا ورکړي. ایران ته د سفر پرمهال د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل پلاوي د ایراني چارواکو سره د چابهار بندر څخه د افغان سوداګرو د ګټې اخیستنې په اړه خبرې وکړې او ایراني لوري هم دا ډاډ ورکړ چې افغان سوداګر له کومې ستونزې پرته کولای شي له دې بندر څخه د خپلو سوداګریزو چارو له پاره ګټه پورته کړي، چې دا د افغانستان د سوداګرۍ په برخه کې یو ستر ګام او د اسلامي امارت لاسته راوړنه بلل کیدای شي. د چابهار بندر د افغانستان او منځنۍ آسیا هیوادونو لپاره یو مهم بندر دی، چې د افغانستان له لارې د منځنۍ آسیا هېوادونه ازادو اوبو ته رسوي، چې دا د منځنۍ اسیا هېوادونو او افغانستان ته چې په وچه کې یو محصور هېواد دی ډېر اړین بلل کېږي او اسلامي امارت هڅه کوي چې دا اړتیا له منځه یوسي او افغانستان ازادو اوبو ته ورسوي.

✍ **څلورم**؛ ځینو هېوادوالو د واخان دهلېز جوړولو ته په اشارې سره ویلي چې دا لار باید جوړه شي او په جوړېدو به یې افغانستان ته د پرمختګ لاره هم پرانیستل شي. د دوی نظر د قدر وړ دی، په رښتیا هم که افغانستان غواړي د خپلې سوداګرۍ له پاره لارې پیدا کړي، دې برخې ته پراختیا ورکړي او خپل سوداګریز توکي د نړۍ تر بازارونو ورسوي، نو باید هم لنډې، اقتصادي او پرمنفعته لارې ورغوي. له دې لارې څخه یوه هم د واخان دهلېز دی. د واخان دهلېز د افغانستان لپاره د هند، چین، تاجکستان او نورو هېوادونو سره د سواګرۍ د پراخېدو او د ترانزیټي عوایدو د زیاتېدو له پلوه ډېر مهم دی. دا دهلېز به له تاجیکستان سره مرسته وکړي چې د کراکورم له لویې لارې چین او همدارنګه د پاکستان بندرونو ته لاسرسی ومومي. همدارنګه، تاجیکستان پاکستان ته د بریښنا د لېږد او نورو سوداګریزو راکړو ورکړو لپاره نوموړي دهلیز ته د یو مهم او ستراتیژیک دهلیز په نظر ګوري. له بل پلوه، د واخان دهلېز د پاکستان لپاره هم ځانګړې اهمیت لري او له دې لارې کولی شي چې د منځنۍ آسیا بډایه منرالونو ته لاسرسی ولري .دغه دهلېز د افغانستان له پاره هم ځکه ارزښت لري چې له دې لارې به له یوه پلوه سوداګرۍ پراختیا پیدا کړي او له بل پلوه به افغانستان ته ترانزیټي عواید زیات شي، چې دواړه یې کولای شي د افغانستان اقتصاد ته وده ورکړي. اسلامي امارت هڅه کوي چې دغه دهلېز جوړ او ګټه ترې پورته کړي.

## پایله

د هر هېواد واکمنان او مسوولین هڅه کوي چې خپل هېواد له سیاسي، اقتصادي، ټولنیز پلوه پر خپلو پښو ودروي. ددې چارې ترسره کېدو له پاره لومړی قوي او متین عزم په کار دی او دوهم له ګاونډیو، سیمې او نړۍ سره اړیکې ټینګول. اسلامي امارت د خپل هېواد او هېوادوالو له پاره په پوره متانت هڅه کوي چې هېواد له اقتصادي ستونزو راوباسي او د پرمختګ او هوساینې په لور یې بوځي. په دې برخه کې له هېڅ راز هلو ځلو ډډه نه کوي. په هېواد کې دننه د هغو زیربناوو جوړولو ته یې مخه کړې ده چې کولای شي اقتصادي وده رامنځته کړي او له هېواده بهر یې له پورتنیو هېوادونو سره د اړیکو ټینګولو لار غوره کړې ده. اسلامي امارت هڅه کوي چې له هېوادونو سره په متقابل احترام ولاړ تعامل ترسره او د نورو برخو ترڅنګ له دې هېوادونو سره خپلې سوداګریزې او اقتصادي اړیکې پراخې کړي، څو وکولای شي د اقتصادي ودې روان بهیر لا ګړندی کړي. په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یوه لوړ پوړي امارتي پلاوي په مشرۍ ایران ته سفر وکړ. هلته یې د ایراني چارواکو سره په خپلو لیدنو کتنو کې د سوداګرۍ، صنعت، کانونو، تیلو، ټرانزیټ، پانګونې، کرنې، سرحدي مسایلو، روغتیا، لارو او ښار جوړونې، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او دغه راز په ایران کې مېشت افغان کډوالو د ستونزو په اړه خبرې وکړې. ددې ترڅنګ حاجي ملاصاحب او مل پلاوي یې له چابهار بندر او یوشمېر صنعتي او تولیدي فابریکو هم لیدنه وکړه. د سفر پرمهال په بېلا بېلو برخو کې یو شمېر هوکړه لیکونه یې هم لاسلیک کړل. په دې برخو کې پرمختګ د هېواد د اقتصادي ټیکاو ضمانت کوي.

# د آمو نفتي حوزې له ۸ نویو څاګانو څخه د نفتو استخراج پرانیسته وشوه



## سریزه

افغانستان کې د نورو طبیعي زېرمو ترڅنګ د تېلو او ګازو پرېمانه ذخیرې شته دي، که له دې زېرمو څخه په ملي شتمنیو کې ګټه پورته شي، د کانونو ناقانونه کېندنو مخنیوی وشي، بې له شکه چې دا چاره د اقتصاد په وده او پرمختیا کې ګټوره تمامېدای شي. همدې اصل ته په کتو اسلامي امارت په هېواد کې د ځینو کانونو د را ایستلو په برخه کې عملي ګامونه پورته کړي دي. د امو نفتي حوزې د تېلو د اتو نویو څاګانو د استخراج چارې ددې لړۍ یوه برخه ده. په همدې لړ کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په سرپل ولایت کې د آمو نفتي حوزې له ۸ نویو څاګانو څخه د نفتو د استخراج پرانیسته وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، اسلامي امارت د ټولو ولایتونو متوازن پرمختګ ته پاملرنه کړې او دا دی اوس موږ په سرپل ولایت کې د یوې مهمې پروژې د پرانیستې شاهدان یوو، چې لومړۍ ګټه به یې د همدغه ولایت اوسېدونکو ته ورسېږي. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، د دغه مهمې پروژې په پیل سره به په سرپل ولایت کې مجهز روغتون، د خلکو له غوښتنې سره سم معیاري سړک او همدا راز د اوبو بند هم جوړ شي، چې زرګونو کسانو ته به کاري فرصتونه برابر او د هېواد په اقتصادي وده او د عواید په زیاتوالي کې به مهم رول ولوبوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له قراردادي شرکت څخه وغوښتل څو د یادې پروژې کارونه د قرارداد مطابق په ښه ډول ترسره او د سرپل ولایت د اوسېدونکو اړتیاوو ته په کتو دې په دغه ولایت کې عام‌المنفعه پروژې بشپړې کړي. د یادولو وړ ده چې د آمو


نفتـي حـوزې د ۸ نویـو څاګانـو په فعالېدو سره به د نفتو په استخراج کې په ورځني ډول ۸۰۰ مترمکعب زیاتوالی راشي او ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکي کې به یې ۱۰ نورې څاګانې هم فعالې شي. د آمو نفتي حوزه کې اوسمهال ۳۵۰ انجنیـران او ۵۵۰ کارکوونکـي پـه مسـتقیم ډول پـر کار بوخـت دي، چې د یـادو ۸ نویو څاګانو په فعالېـدو سره به یې په شمېر کې زیاتوالی راشي.

## د آمو نفتي حوزې له ۸ نویو څاګانو څخه د نفتو استخراج د پرانیستې موخه:


موخه یې د تیلو په برخه کې پر ځان بسیاینه، خلکو ته د کاري زمینې برابرول  او اقتصادي وده ده.

## په هغو رسنیو کې د خلکو  نظرونو ارزونه چې «د آمو نفتي حوزې له ۸ نویو څاګانو څخه د نفتو استخراج د پرانیستې» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کـې د خلکـو نظرونو سـلنه ښـودل کېږي چـې د آمو نفتـي حوزې له ۸ نویو څاګانو څخه د نفتو استخراج د پرانیسـتې پـه اړه یې پـه ویډیویي، غږیـزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه
# د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### تویټرپاڼې





### ویاندویان





### ویبپاڼې





### ورځپاڼې





### راډیوګانې



### تلويزيونونه





### په دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلويزيونونه





### راډيوګانې




### آژانسونه





### ورځپاڼې




## ویب پاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د آمو نفتي حوزې له ۸ نویو ځاګانو څخه د نفتو استخراج د پرانیستې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د آمو نفتي حوزې له ۸ نویو څاګانو څخه د نفتو استخراج د پرانیستې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۲۷۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۰۰۰ مثبت دي. ۲۱۰ منفي نظرونه او ٦۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴ ٪، منفي ۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. د آمو نفتي حوزې له ۸ نویو څاګانو څخه د نفتو استخراج د پرانیستې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۹۹۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۲٦۰۴ مثبت، ۳۰۱ منفي او ۸۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۷ ٪، منفي نظرونه ۱۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۸۷ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۱۰ او په دولتي هغو کې بیا ۵ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ٦٦۰۴ مثبت نظرونه، ۵۱۱ منفي نظرونه او ۱۵۱ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۱٪ مثبت نظرونه، ۷٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دادی چې دغه خبر په پراخه کچه د دولتي رسنیو له لوري خپور شوی دی. بله دا چې په دې خبر کې د هېواد په اقتصادي برخه کې پرمختګونو ته د هېوادوالو هیلې زیاتېږي. نو طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي راوړو، ځکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د داسې پروژو په پیلېدو سره به موږ په هېواد کې د داسې پراخو بدلونونو شاهدان واوسو چې په تېرو څو لسیزو کې هېڅ واکمن نظام نه دي ترسره کړي.
- د لویو لارو رغونه او پراختیا د هېواد پر اقتصاد مخامخ اغېز لري، هیله ده چې د کابل- کندهار د لویې لارې چارو ته د ټولګټو وزارت پاملرنه زیاته او جدي شي.
- دا وطن له جلغوزیو نیولې بیا تر نفتو او ګازو هر څه پخپله سینه کې لري، خو سالم مدیریت ته اړتیا لري.
- په هېواد کې دننه باید د نفتو چاڼ خونو یا تصفیه خانو جوړولو قرارداد له کوم هېواد سره وشي.
- کله چې زموږ د ګران هېواد کانونه په سم ډول استخراج شي، ځوانانو ته کار پیدا کېږي او ورسره مو هېواد ابادېږي، نور له بدمرغیو څخه بې غمه کیږو.
- پخوا چې د یو شمېر خلکو له لوري د هېواد په کانونو چور او تالان ګډ و، هېچا هم غږ نه کاوه، خو اوس چې د حکومت له لوري په قانوني، مسلکي او فني ډول کانونه استخراجېږي، نو ځینو یې نارې پیل کړې دي چې ګټې دا ښه کار نه دی.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د تېلو د اتو نویو ځاګانو څخه د تېلو استخراج پیل مهم بللی او ویلي یې دي چې د داسې پروژو په پیلېدو سره به موږ په هېواد کې د اقتصادي پرمختګ شاهدان واوسو. د دوی نظر پر ځای دی، ځکه هر هېواد چې غواړي پرمختګ وکړي او اقتصاد یې پیاوړی شي، باید خپلې طبیعي زیرمې راوباسي او ګټه ترې پورته کړي. د نړۍ هر هېواد چې دا مهال پرمختګ کړی دی، که یې په اړه څېړنه وکړو، هغوی خپلې طبیعي زېرمې په سم ډول مدیریت او استخراج کړې دي او په مرسته یې د هېواد ټول هغه سکټورونه په پښو دروليي چې کولای شي هېواد د پرمختګ په لور روان کړي. اسلامي امارت هم دې ټکي ته پوره پاملرنه کړې ده. د افغانستان طبیعي زېرمې چې ارزښت یې مېلیاردونو ډالرو ته رسېږي او کولای شي افغانستان د نړۍ یو پرمختللی هېواد کړي، سم مدیریت ته اړتیا لري او اسلامي امارت دا چاره پیل کړې ده. اوسمهال موږ او تاسو وینو چې په هېواد کې د نفتو څخه نیولې بیا د اوسپنې، سرپو، مس، سرو زرو، ډېرو سکرو او ځینو نورو کوچینو کانونو استخراج پیل او د ځینو د استخراج او کیندنې له پاره له کورنیو او بهرنیو کمپنیو سره تړونونه لاسلیک شوي دي. ددې تر ټولو ښه مثال همدا د امو د تېلو حوزې د اتو نویو ځاګانو څخه د تېلو د استخراج پیل دی. که چېرې د هېواد ټول کانونه استخراج شي، نو نه یوازې دا چې خلکو ته به د کار زمینه برابره شي، بلکې افغانستان به د نړۍ د شتمنو او پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

✍ **دویم**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې پر اقتصادي وده د لویو لارو اغېز ته په اشارې سره ویلي چې د لویو لارو رغونه او پراختیا د هېواد پر اقتصاد مخامخ اغېز لري، هیله ده چې د کابل- کندهار د لویې لارې چارو ته د ټولګټو وزارت پاملرنه زیاته او جدي شي. د ترانزیټ او سوداګرۍ له پاره د لویو لارو، سړکونو، ریل پټلیو، هوایي کرښو او معیاري هوایي ډګرونو جوړول اړین دي. ځکه ددې ترانزیټي او مواصلاتي زیربناوو له رغونې پرته د یوه هېواد ښېرازي او پرمختګ امکان نه لري. اسلامي امارت د لویو لارو اهمیت ته په کتو دا مهال د هېواد د سترو او ترانزیټي لارو په رغونه پیل کړی دی چې ښې بېلګې یې د سالنګ، کابل- کندهار لویې لارې دي چې کارونه یې په چټکۍ سره روان دي. د سالنګ تونل او ۱۶مې ګالرۍ د بیارغونې چارې پای ته ورسېدې او اوس ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي. په همدې اړه په جوړو شویو مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې وویل چې دغه لویه لار د هېواد د شمال او جنوب د نښلولو ترڅنګ د جنوبي او منځنۍ اسیا هېوادونو ترمنځ د ترانزیټ په برخه کې هم مهم رول لوبوي، چې د ګاونډیو هېوادونو د سوداګریزو توکو په لېږد رالېږد کې به ډېرې اسانتیاوې رامنځته او له دې لارې به د سوداګریزې راکړې ورکړې حجم زیات شي. له دې څخه معلومېږي چې اسلامي امارت د لویو لارو رغونې ته ځکه اوږه ورکړې ده چې وکولای شي هېواد لومړی له ګاونډیو، بیا له سیمې او په پای کې له نړۍ سره ونښلوي. د اسلامي امارت مسوولینو تل په خپلو خبرو کې ویلي چې کوم کار کوي او یا هم کومه پروژه عملي کوي، په هغه کې تر ټولو زیات د پروژې کیفیت ته پاملرنه کوي. دوی تل له قراردادي شرکتونو غوښتي چې پروژه دې له قرارداد سره سم پر ټاکلې نېټه په باکیفیته ډول بشپړه کړي. نو د کابل- کندهار لویه لار چې کومو شرکتونو ته په قرارداد ورکړل شوې، هغه به هم پر ټاکلي وخت او په باکیفیته ډول ورغول شي، له دې پلوه دې څوک تشویش نه کوي.

✍ **درېیم؛** ځینو هېوادوالو بیا وړاندیز کړی چې  په هېواد کې دننه د تېلو د چاڼ له پاره چاڼ خونې جوړې شي دا به یو مثبت گام وي. د دوی نظر پر ځای دی، اسلامي امارت دې موضوع ته متوجه دی او په دې برخه کې د عملي کار پیل ته نېږدې شوي دي.

✍ **څلورم؛** یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې ویلي چې دا مهال د افغانستان کانونه په مسلکي او فني ډول د حکومت له لوري استخراجېږي، پخوا دغه کانونه په ناقانونه او خپلسري ډول کیندل کېدل. افغانستان له طبیعي زېرمو ډک دی، خو ستونزه دا وه چې له دې سترې شتمنۍ څخه هېڅ حکومت هم د افغانستان په گټه کار وانخیست. همدا لامل و چې افغانستان لا هم له سختو اقتصادي ستونزو سره مخ دی. له دې امله هېڅ برخې پرمختگ نه دی کړی ځکه چې افغانستان یو خپلواک او پیاوړی اقتصاد نه درلود. که چېرې د افغانستان اقتصاد پر خپلو پښو ولاړ وای، نو اوس به افغانستان هم د نړۍ یو پرمختللی هېواد و. اوس چې هېواد کې یو خپلواک، قانوني او مشروع نظام راغلی دی، هڅه کوي چې له خپلې تر ځمکه لاندې شتمنۍ څخه د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختگ په موخه گټه پورته کړي. په همدې موخه یې د هېواد کانونو استخراج ته مخه کړې ده او پر مټ یې هر ورځ مېلیونونه افغانۍ د حکومت خزانې ته جمع کیږي. په همدې پیسو بیا د هېواد د زیربناوو د جوړولو له پاره کار اخیستل کېږي او هم هېوادوالو ته خدمات وړاندې کېږي. که چېرې موږ اوس هم له خپلې دې شتمنۍ څخه گټه پورته نه کړو، نو د تېر په څېر به مو لاس نورو ته اوږد وي، هېڅکله به هم د خپلې ارادې خاوندان نه شو. اسلامي امارت د یو حکومت په صفت غواړي، نور د پردیو له احتیاجه خلاص شو او د یوه خپلواک او مترقي هېواد په توگه په نړۍ کې ژوند وکړو.

## پایله

دا چې زموږ هېواد په وچه کې ایسار او نسبتاً وچه هوا لري، نو له دې امله د عوایدو یوازینۍ سرچینه چې وکولای شي په اوږدمهال کې د افغانستان اقتصاد له سقوط څخه وژغوري، هغه د کرنې سکټور ترڅنگ، په هېواد کې تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمې دي. سره له دې چې زموږ هېواد د طبیعي زېرمو له پلوه یو بډای هېواد دی، خو سره له دې هم خلکو یې هوسا ژوند ته د رسېدو په موخه له دې برخې څخه اقتصادي گټه نه ده پورته کړې، علت یې کیدای شي د حکومتونو نه پاملرنه وي. د طبیعي زېرمو له جملې څخه د کانونو د عملي استخراج په پیلېدو سره به د کاري فرصتونو رامنځته کېدو سره سره په افغانستان کې اقتصادي څرخ هم په خوځښت راشي او دا به ددې لامل وگرځي چې افغانستان به په نړیواله کچه د پاملرنې محراق وگرځي او له امله به یې یو زیات شمېر پانگوال په دې هېواد کې د پانگونې له پاره چمتو شي. د افغانستان په اقتصادي وده کې کانونه د پام وړ رول لري او دا هغه څه دي چې کولای شي اقتصاد پیاوړی او ان د دې لامل هم گرځېدلی شي چې په هېواد کې شته ستونزو ته په بشپړ ډول د پای ټکی کېږدي او افغانستان په خپلو پښو ودروي. اسلامي امارت همدې اهمیت ته په کتو سره هڅه پیل کړې ده چې په هېواد کې شته کانونه چې ارزښت یې میلیاردونو ډالرو ته رسیږي راوسپړي او د عوایدو پرمټ یې لومړی افغانستان ودان او بیا یې اقتصاد په خپلو پښو ودروي.

# د سالنګ لویه لار له رغونې وروسته پرانیستل شوه




## سریزه

د لویو لارو او سړکونو رغونه او جوړونه د یوه هېواد په اقتصادي وده کې بنسټیز اهمیت لري چې په دې سره د عامه تګ راتګ ترځنګ د هېواد اقتصادي سکټور هم وده کوي. ددې لید لوري پر بنسټ، اسلامي امارت د بېلا بېلو زیربناوو د جوړولو ترځنګ د سوداګریزو توکو د ترانزیټ او د خلکو د تګ راتګ په موخه د لویو لارو او سړکونو جوړولو او رغولو ته لومړیتوب ورکړی دی. د لویو لارو له ډلې څخه یوه هم د سالنګ لویه لار ده چې له ځانګړي اهمیت څخه برخمنه ده. ددې لویې لارې په جوړېدو او رغېدو سره به اسیایي هېوادونو ته د ترانزیټ ترځنګ د وارداتي توکو په بیو کې هم د پام وړ کموالی راشي. اسلامي امارت ددې لويې لارې اهمیت ته په کتو وپتېیله چې دا مهم سوداګریزه او ترانزیټي لار په اساسي ډول ورغوي. په همدې موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو لويې لارې د بیارغونې چارو پروژه د ۱۴۰۲ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۱مه نېټه پرانیستل شوه. په همدې موخه جوړو شویو مراسمو ته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، له قوش‌تېپې ملي کانال وروسته دا دوهمه لویه ملي او اقتصادي پروژه ده چې په بشپړېدو سره به یې د هېواد له شمال څخه جنوب ته د تګ راتګ او سوداګرۍ په برخه کې ګڼې آسانتیاوې رامنځته شي. دغه راز د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۹مه نېټه د سالنګ لويې لارې تونل او ۱۶مه ګالري ګټې اخیستنې ته وسپارل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې مناسبت جوړ شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل: «یو ملت په اقتصادي لحاظ هغه مهال پر پښو


دربېري او د خودکفايۍ پر لور ګامونه اخلي کله چې سالمه زېربنا ولري. زموږ د هېواد زېربنا د تېرو څلوېښتو کلونو د جګړو له امله سخته صدمه ليدلې ده. د اقتصاد د اساساتو رغولو اهميت اسلامي امارت درک کړی دی، ځکه يې د اقتصادي پاليسۍ مهمه برخه ګرځېدلې ده». محترم ملا صاحب زياته کړه، څه موده وړاندې دوی په همدې سيمه کې د سالنګ لارې د اساسي بيارغونې د کار د پيل افتتاح درلوده او اوس يې د ځينو اساسي برخو لکه تونل، ګالريو او نورو ساحو د کار د پوره کېدو او ګټې اخيستنې ته د سپارلو پرانيسته کوي. د محترم ملا صاحب په خبره، دا برخې په داسې اساسي ډول د افغان انجنيرانو له لوري رغول شوې دي چې په تېرو شلو کلونو کې يې ساری نه دی ليدل شوی. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګ لويې لارې اهميت ته په اشارې سره وويل، د دې لارې اهميت په دې کې دی چې د هېواد د شمال او جنوب د نښلولو ترڅنګ د جنوبي او منځنۍ اسيا هېوادونو له پاره د ترانزيټ په برخه کې مهم رول لوبوي، د ګاونډيو هېوادونو د تجارتي توکو په لېږد رالېږد کې به ډېرې اسانتياوې رامنځته او له دې لارې به د سوداګريزې راکړې ورکړې حجم زيات شي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال هېوادوالو ته د سالنګ لويې لارې څخه د تېرېدو پر مهال د لا نورو اسانتياوو برابرولو او همدارنګه د سوداګرۍ او ترانزيټ کچې د زياتېدو په اړه وويل، اسلامي امارت په پام کې لري چې د امکاناتو په برابرېدو سره د سالنګ دوهم تونل هم وباسي او له حيرتان څخه تورخم ته د اوسپنې پټلۍ وغځوي، چې په دې سره به په ترانزيټ کې زياتوالی او هېوادوالو ته به بې شمېره اسانتياوې رامنځته شي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ملت ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په پوره اخلاص او صداقت سره د هېواد د آبادۍ لپاره هڅې کوي او ټولې کړې ژمنې به په عمل کې ثابتې کړي.

## د سالنګ لويې لارې له رغونې وروسته د پرانيستې موخه:


موخه يې د عامه تګ راتګ او د سوداګرۍ د پراختيا په موخه د ترانزيټ په برخه کې د اسانتياوو رامنځته کول دي.

## په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د سالنګ لويې لارې له رغونې وروسته د پرانيستې» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**يادونه:** ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د سالنګ لويې لارې له رغونې وروسته د پرانيستې په اړه يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


#### آژانسونه





#### ټوېټرپاڼې





#### وياندويان





#### ويبپاڼې




## ورځپاڼې





## راډيوګانې




## تلويزيونونه





## په دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


## تلويزيونونه





## راډيوګانې




## آژانسونه





## ورځپاڼې





## ویب پاڼې




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



# د سالنګ لویې لارې له رغونې وروسته د پرانیستې خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

## د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او څېړول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د سالنګ لویې لارې له رغونې وروسته د پرانیستې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۶۱۱۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۸۰۴ مثبت دي. ۲۲۳ منفي نظرونه او ۹۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۵ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. د سالنګ لویې لارې له رغونې وروسته د پرانیستې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۶۵۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۱۳۹ مثبت، ۳۶۴ منفي او ۱۵۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۹ ٪، منفي نظرونه ۸ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۹ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي

نظرونو ســلنه لوړه ده، په خصوصي رســنیو کې د منفي نظرونو ســلنه ۸ او په دولتي هغو کې بیا ۴ ده. که په دولتي او خصوصي رســنیو کې مثبت، منفي نظرونه او ســالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۹۹۴۳ مثبت نظرونه، ۵۸۷ منفي نظرونه او ۲۴۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۲٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

**دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟**

یــو لامل یې دادی چې دغه خبر په پراخه کچه د دولتي رســنیو له لوري خپور شــوی دی. بلــه دا چې په دې خبر کې د هېــواد په اقتصــادي برخه کې پرمختګونو ته د هېوادوالو هیلې زیاتېږي. نو طبیعــي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونــه هم زیات وي. له دې څخه جوتېــږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- ډېر ژر به په هېواد کې د داســې پرمختګونو شــاهدان واوسو چې په تېرو سلو کالو کې هېڅ واکمن نظام نه دي ترسره کړي.
- د سالنګ لویې لارې په رغونې سره به د هېواد د شمال ولایتونو اقتصاد وغوړېږي.
- د سالنګ لویې لارې په جوړولو سره اسلامي امارت وښودله چې افغانان کولای شي د بهرنیو له ملاتړ پرته خپل هېواد اباد کړي.
- خوښ یوو او هیله لرو چې اسلامي امارت د کار روزګار پیدا کولو په برخه کې خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي، څو په هېواد کې د بې وزلۍ کچه راټیټه شي.
- ډېر د خوښۍ ځای دی، د سالنګ لویه لار د ګران وطن افغانستان لپاره ډېر حیاتي ارزښت لري.
- دا یو نیک اقدام او ستره لاسته راوړنه ده، هیله من یوو چې له دې وروسته د ملي سوداګرو بهانې پای ته ورسېږي او له ګرانۍ او احتکار څخه لاس په سر شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

✍ **لومړی**؛ یو شمېر هېوادوال د سالنگ لویې لارې رغونه د سوداگرۍ او اقتصاد په برخه کې ستر پرمختگ بولي او وایي چې دا ډول پرمختگونه بې ساري دي او په تېرو سلو کلونو کې یې ساری نه دی لیدل شوی. په رښتیا هم شاوخوا څلور لسیزې په هېواد کې امنیت نه و او جگړې وې، له دې ور ها خوا داسې کوم حکومت هم نه و چې هغه دې د هېواد د پرمختگ لـه پاره کار وکړي. څکه که هغوی پر خپل وخت د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره کار کړی وای، نو نن به افغانستان له دومره ناخوالو سره مخ نه و. ولې اوس چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی، په دې لنډه موده کې پر دې وتوانید چې د هېواد زیربنایي پروژې په ډېرو کمو امکاناتو پیل کړي. که موږ د سالنگ لویې لارې ته وگورو یا سترو بندونو لکه کمال خان او بخش آباد د پاتې چارو پیل ته ځیر شو، د افغانستان په خاوره کې د واخان دهلېز د سړک جوړولو ته متوجه شو، نو دا به ښه راته جوته شي چې اسلامي امارت د هېواد د پرمختگ له پاره څومره اغېزناک گامونه پورته کړي او لا هم په دې برخه کې کار روان دی.

✍ **دوهم**؛ ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ویلي دي چې د سالنگ لویې لارې په جوړولو سره اسلامي امارت وښودله چې افغانان کولای شي د بهرنیو له ملاتړ پرته خپل هېواد آباد کړي. افغانان هم د نړۍ د نورو انسانانو په څیر دي، هم وړتیا لري او هم ددې ظرفیت پکې شته چې د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر خپل هېواد مترقي کړي. خو یو څه چې افغانستان له کلونو راهیسې همداسې وروسته پاتې دی، هغه د ځینو حکومتونو ناغیړي، ناسم مدیریت او هېواد ته نه ژمنتیا ده. که حکومتونو مو په واقعي ډول د هېواد له پاره کار کړی وای، نو موږ به داسې له ناخوالو سره مخ نه و. اسلامي امارت د یوه ژمن حکومت په توگه کار پیل کړی، دادی اوس موږ هره ورځ د یوې داسې پروژې او تړون شاهدان یوو چې هغه کولای شي افغانستان د نړۍ د نورو هېوادونو سره سیال کړي. اوس نو ملت ته هم په کار ده چې په هره برخه کې اسلامي امارت ته لاس ورکړي او خپله انرژي د هېواد په پرمختگ کې مصرف کړي او ځینې ستونزې شاته کړي. په دې کار سره به د هېواد ترقي او پرمختگ بیخي حتمي شي. سالنگ لویې لارې د تونل او ١٦مې گالرۍ د بیارغونې چارو په پرانیستغونډه کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وویل، یو ملت په اقتصادي لحاظ هغه مهال پر پښو درېدي او د خودکفایۍ پر لور گامونه اخلي کله چې سالمه زېربنا ولري. زموږ د هېواد زېربنا د تېرو څلوېښتو کلونو د جگړو له امله سخته صدمه لیدلې ده. د اقتصاد د اساساتو رغولو اهمیت اسلامي امارت درک کړی دی، څکه یې د اقتصادي پالیسۍ مهمه برخه گرځولې ده . له دې څخه په ډاگه شوه چې اسلامي امارت د هېواد پرمختگ ته څومره ژمن او متعهد دی.

✍ **درېیم**؛ یو شمیر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د بې کارۍ ستونزې ته په اشارې سره ویلي چې اسلامي امارت دې د بې کارۍ غم وخوري څو په هېواد کې د بې وزلۍ کچه راټیټه شي. دا سمه ده چې په هېواد کې بې کاري شته، خو دا په دې مانا نه ده چې اسلامي امارت په راتگ سره بې کاري زیاته شوې ده، بلکې له کلونو راهیسې په

افغانستان د بې کارۍ له امله خلک له ستونزو سره مخ و. اسلامي امارت دې ټکي ته متوجه دی او هڅه کوي چې دې ستونزې ته د تل له پاره پای ورکړي. په همدې موخه يې له صنعت څخه نیولې بیا تر کانونو ایستلو، کرنې، بیارغونې، زیربنایي پروژو عملي کېدو پورې ټولو برخو ته پام ور اړولی دی او په دې برخو کې يې ښېلا ښېلې پروژې عملي کړې او لا هم روانې دي. په دې برخو کې همدا اوس په سلګونو زره کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. اسلامي امارت پر دې بسنه نه ده کړې او په بشپړ ډول يې د بې کارۍ پای ته رسولو په موخه یو شمېر ستري او حیاتي پروژې پلان کړې دي چې په پیل سره به يې دې ستونزې ته پای ورکړل شي.

✍ **څلورم**؛ ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې دې ټکي ته اشاره کړې ده چې د سالنګ تونل په رغېدو سره به نور د سوداګرو دا بهانې پای ته رسېدلې وي چې لار خرابه ده. دوی له سوداګرو غوښتې چې نور دې له ګرانۍ څخه لاس په سر شي. لومړی دا چې اوس په افغانستان کې یو مرکزي او پیاوړی حکومت رامنځته شوی دی، هېڅ سوداګر نه شي کولای په خپلسر د توکو نرخونه لوړ کړي، دا مهال د حکومت له لوري پر سوداګرو څارنه کېږي او اجازه نه ورکوي چې نرخونه له کوم واضح لامل پرته لوړ کړي. دغه راز په ښارونو کې هټیوالو باندې نرخ نامې وېشل شوې دي او که څوک ترې سرغړونه وکړي، نو قانوني چلند ورسره کېږي. مخکې يې که دا بهانه وه چې لا خرابه ده، نو د سالنګ تونل په رغېدو سره اوس دا بهانه نه شي کولای. همدا راز اسلامي امارت هڅه کوي چې په هېواد کې د خوراکي توکو بیې ټیټې وساتي او په دې برخه کې ورځ تر بلې د سوداګرو ستونزو ته حل لارې پیدا کړي.

## پایله

په افغانستان کې کلونو جګړو او بیا د پردیو تر واک لاندې حکومتونو له امله د هېواد زېربناوې یا خو په بشپړ ډول ورانې شوې او ځینې خو يې له سره رغول شوې نه دي. همدا لامل و چې هېواد د پرمختګ پر ځای شاتګ کاوه او خلک له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان و. که چېرې په تېر کې د هېواد د پرمختګ له پاره کار شوی وای، نو نه به افغانستان د نړۍ د پرمختګ له کاروان څخه وروسته پاتې و او نه به مو هېوادوال له اقتصادي ستونزو کړېدل. خو اوس چې په هېواد کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې پیاوړی مرکزي حکومت رامنځته شوی دی، په لنډه موده کې يې داسې زېربنایي کارونه کړي دي چې په تېرو لسیزو کې يې ساری نه دی لیدل شوی. له دې څخه یو هم د سالنګ لویه لار ده چې د هېواد له پاره حیاتي ارزښت لري. د سالنګ لویې لارې د بیارغونې مراسمو ته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، له قوش‌تېپې ملي کانال وروسته دا دوهمه لویه ملي او اقتصادي پروژه ده چې په بشپړېدو سره به يې د هېواد له شمال څخه جنوب ته د تګ راتګ او سوداګرۍ په برخه کې ګڼې آسانتیاوې رامنځته شي. له دې ور ها خوا اسلامي امارت د برېښنا د تولید، رېل پټلۍ، صنعت د ودې او ځینو نورو برخو کې هم ورته ستري پروژې پیل کړې دي چې په عملي کېدو سره به يې افغانستان لومړی ځان بسیاینې ته یو قدم نور ور نېږدې شي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت د هېواد پرمختګ ته ژمن دی او هڅه کوي چې هېواد له اقتصادي پلوه پر خپلو پښو ودروي. ددې کار ترسره کولو له پاره اړتیا ده، چې خپلې زېربناوې ورغوي.

# د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکه اداره جوړه شوه



## سریزه

کـه یـو هېـواد هـر څومـره خام مواد او منابع ولري، خو چې پر تولیداتو د دغو سرچینو د بدلولو ځواک او وړتیا ونه لري، نو بیا به هم نورو ته محتاج او اړ وي. د صنعت په پښو درول ددې کار مخنیوی کوي او یوه ټولنه یا هېواد د اقتصادي ځان بسـیاینې او خپلواکۍ پر لور بیایي. اسـلامي امارت د صنعت ارزښـت ته په کتنې سره په دې شـاوخوا دوو کالونو کې د صنعتي فابریکو د فعالولو په برخه کې د خصوصي سکټور بشپړ ملاتړ کړی او له دې امله اوس مهال د افغانستان په کچه یو زیات شـمېر فابریکې فعالې شـوې او بېلا بېل توکي تولیدوي. ددې ترڅنګ اسـلامي امارت ۱۳ هغه دولتي شرکتونه هـم بېرتـه فعـال کـړي دي، چـې تـر دې مهاله یې چارې په ټپـه ولاړې وې. د دولتـي شرکتونو ترمنځ د لا ښـې همغږۍ، د چـارو د ښـه مدیریـت او د انحصـار او احتـکار د مخنیوي په خاطـر د عالیقدر امیرالمؤمنین شـیخ صاحب حفظه الله د ۲۱مې ګڼې فرمان پر بنسټ د ۱۴۰۲لمریز کال د سلواغې په لومړۍ نېټه خپلواکه اداره رامنځته شوه. په همدې موخه جوړو شـویو مراسـمو ته د ریاسـت الوزراء اقتصادي مرسـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال د یادې اداري جوړېدل مهم وبلل او ویې ویل، په لومړیو کې په افغانستان کې د دولتي تصدیو او شرکتونو فعالیتونه زیات اغېزنـاک وو. د تېـرې قمـري پېړۍ تر وروسـتۍ لسـیزې پورې دولتـي تصدیو او شرکتونو تر ۶۰ سـلنې پورې ملي بودیجه برابروله او خدمات یې تر خصوصي سکټور لوړ وو. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «آن هغه خدمات چې خصوصي سکټور


به يې په ترسره کولو کې پاتې راغی، دولتي تصديو او شرکتونو به په پوره مسلکيتوب او قوت سره ترسره کول.» د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، له بده مرغه له هغه وروسته د افغانستان د نورو برخو تر څنګ دولتي شرکتونو او تصديو ته هم ډېر زيان ورسېد. په تېرو څلوېښتو کلونو کې يادو شرکتونو ته چا سر هم ور ښکاره نه کړ. محترم ملا صاحب د اسلامي امارت له لوري د ډېری دولتي شرکتونو بېرته فعالېدو ته په اشارې سره وويل، د اسلامي امارت په راتګ او د ماليې وزارت په هڅو سره ډېر شرکتونه بېرته فعال او په عوايدو کې يې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. د محترم ملا صاحب په وينا، په تېر کې د شرکتونو د ناوړه حالت يو عمده لامل د فاسدو اشخاصو له لوري ددې شرکتونو ناسم مديريت و، په داسې حال کې چې په ټوله نړۍ کې دولتي او غير دولتي شرکتونه د ځانګړو کمېټو او بورډونو له لوري رهبري کېږي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د دولتي شرکتونو د خپلواکې اداري رامنځته کول همدې موخې ته رسېدل وبلل او زياته يې کړه چې د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله د فرمان پر بنسټ به اوس‌مهال ټول امارتي شرکتونه د يوې واحدې ادارې تر چتر لاندې راشي، چې چارې به يې مثبتې او ښې پرمخ ولاړې شي. د غونډې د ګډونوالو په وينا چې دغه اداره به د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې ګټوره تمامه شي او ورسره به د ملي عوايدو کچه لوړه شي.

## د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکې اداري د جوړېدو موخه:


موخه يې د دولتي شرکتونو ترمنځ د لا ښې همغږۍ، د چارو ښه مديريت او د انحصار او احتکار مخنيوی دی.

## په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکې اداري د جوړېدو» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** په پورته ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکې اداري د جوړېدو په اړه یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### تلویزیونونه





### ویاندویان





### ویبپاڼې




## ورځپاڼې





## راډیوګانې




## تلویزیونونه





## په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ویبپاڼې





## آژانسونه




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکې اداري د جوړېدو په اړه په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتيا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي، چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نيوکې او وړانديزونه شريک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نا رسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکې ادارې د جوړېدو خبر په اړه د ټلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۲۷۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۲۲۲ مثبت دي. ۴۷ منفي نظرونه او ۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۶ ٪، او منفي ۴ ٪ دي.

۲. د دولتي شرکتونو د انسجام خپلواکې ادارې د جوړېدو خبر په اړه د ټلویزیونونو، راډیوګانو، ویبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۱۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۱ مثبت او ۴ منفي نظرونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵. ۹۶ ٪ او منفي نظرونه ۵. ۳ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د دولتي رسنیو په پرتله خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۵. ۹۶، خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۹۶ ده. په دولتي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په دولتي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۴ او په خصوصي هغو کې بیا ۵. ۳ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۳۳۳ مثبت نظرونه، ۵۱ منفي نظرونه او ۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۶٪ مثبت نظرونه او ۴٪ منفي نظرونه دي.

## دا چې د دولتي رسـنیو په پرتله په خصوصي رسـنیو کې د مثبتو نظرونو سـلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دا دی چې دغه خبر په پراخه کچه د رســنیو له لوري خپور شــوی دی. بله دا چې په دې خبر کې د هېواد په اقتصادي برخه کې پرمختګونو ته د هېوادوالو هیلې زیاتېږي. نو طبیعي خبره ده چې په اړه به یې مثبت نظرونه هم زیــات وي. لــه دې څخــه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکــو له هرکلي سره مخ او په اړه یې خپل نظرونه څرګندوي.

## پـه رسـنیو او ټولنیزو شـبکو کې د خلکو نظرونـو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د ګوتو په شـمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړاندیزونه شـامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو نه بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د اوسنیو مسوولینو دا اقدام د ستایلو وړ دی، څکه د ټولو بدمرغیو مور فقر او بې وزلي ده، له نړۍ سره پر متقابل احترام ولاړ تعامل کولای شي چې هېواد مو په هر ډګر کې پر مختګ وکړي او د ګاونډیو له احتیاجه مو خلاص کړي او ددې ضرورت به پیدا نه شي، چې خپل مریضان د درملنې او ځوانان د کار لپاره ګاونډیو هېوادونو ته واستوو.
- سیاست، تعلیم، رغونه، اقتصاد، حکومتولي، وطن ته وفاداري، یوازې هم دغه موجوده نظام خلک دي.
- خصوصي سکټور ته وده ورکول به د افغانانو پر اقتصاد مثبت تاثیر ولري.
- ډېره ښه خبره ده جنګ ختم شو اوس باید اقتصاد ته کار او بیارغونه وشي، دا د افغانانو لپاره ښه زېری دی.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- د یادونــې وړ ده، دلتــه مــوږ یــوازې د ګوتــو پــه شــمېر نظرونــه چــې پــه هغــو کــې مثبــت او منفــي نظرونــه او وړاندیزونه شـامل دي، راوړو، څکه د ټولو نظرونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شـمېر لسـګونو نه، بلکې سـلګونو ته رسېږي.
- د دولتــي شرکتونــو د فعالیتونــو پــه پیلېدو سره به موږ په هېواد کې د صنعت د پرمختګ شـاهدان واوسـو. د اسـلامي امـارت لـه لـوري پـه دې برخه کې ګام پورتـه کول، د هېـواد د اقتصادي پرمختـګ په مانا دی.
- کـه چیـرې تېـرو حکومتونـو پـه ځانګـړې ډول د کابـل تیـرې اداري د خصوصـي سـکټور ترڅنـګ د دولتـي شرکتونـو او تصدیـو رغونـې تـه پاملرنـه کړې وای، نو اوس به موږ د ځینو تولیداتو په برخه کې پر ځان بسـیا وای.

- ✍ د دولتـي شرکتونـو د چـارو د لا ښـه والي پـه موخـه د خپلواکـې اداري رامنځتـه کېـدل د هېـواد پـه پرمختګ کـې یـو مثبـت ګام دی او اسـلامي امـارت بایـد دې ته ورتـه د هېواد د زیربنـاوو په جوړولو کې هـم چټک ګامونه پورته کړي.

- ✍ اوس افغانسـتان د داسـې یـو نظـام تـر چـتر لاندې دی چـې هغـوی د خپلو ګټو پر ځـای ملي ګټو تـه ترجیح ورکوي او ان شـاءالله چې دا نظام به افغانسـتان له سـیالانو سره سـیال کړي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ یو شمېر خلکو په خپلو نظرونو کې د دولتي شرکتونو او تصدیو په بیرته فعالېدو خوښي ښودلې او ویلي یې دي چې په دې اقدام سره به موږ په هېواد کې د صنعت د پرمختګ شاهدان واوسو. دا یو واقعیت دی تر هغې چې په هېواد کې د صنعت سـکټور چې دولتي او خصوصي تولیدي کارخونې او شرکتونه یې مهمه برخه جوړوي، پر پښو ونه درېږي، تـر هغـې د یوه هېواد پرمختګ هم امکان نه لري. د هېواد لـه صنعتي کېدو سره هېواد له وارداتي حالته وځي او په یوه صادراتي هېواد بدلېږي. د صنعت وده کولای شي د بې کارۍ کچه راټیټه او نوي کاري فرصتونه رامنځته کړي. د ډېرې مخ پر ودې هېوادونو ټول تولید د کرنې په سکټور پورې اړه لري، ددې هېوادونو ډېری وګړي په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او یوازینۍ کسـب او کار یې کرنه او بزګري ده. دا چې د دغو هېوادونو نفوس په چټکۍ سره زیاتیږي او د کرنیزې ځمکې مقدار ثابت دی، د ویش په وخت کې هر وګړي ته د ځمکې یوه محدوده حصه ور رسېږي، طبعاً سړي سر کلنی عایـد راکمېږي. یا هم داسـې وي چې د ځمکې په یوه محدوده برخه د یوې کورنـۍ ټول غړي کار کوي، خو د ځمکې څخه ترلاسه حاصل دومره نه وي چې دې ټولو ته دې بسنه وکړي. دغه حالت ته په اقتصاد کې پټه بې کاري وایي. کله چې د یوه هېواد صنعتي سـکټور پرمختګ وکړي، نو دغه پټ بې روزګاره وګړي له کرنیز سـکټور څخه صنعتي سکټور ته مخه کوي او په پایله کې یې دې دا ډول پټې بې روزګارۍ مخه نیول کېږي. اسلامي امارت د صنعت دې اهمیت ته په کتو د صنعتي دولتي شرکتونو ترڅنګ د صنعت په برخه کې زیاتې اسـانتیاوې برابرې کړې دي، چې د دولتي شرکتونو او تصدیو د انسجام خپلواکې اداري رامنځته کېدل یې ښه ثبوت دی. په دې سره به په هېواد کې د صنعت پرمختګ ته لار هواره او هېواد به مو په لنډ وخت کې د پیاوړی صنعت څښتن شي.

**دوهـم**؛ ځینو کسـانو بیا د دولتي شرکتونـو او تصدیو د بیارغونې برخې ته د نه پاملرنې له املـه د کابل پر تیرې اداري نیوکه کړې او ویلي یې دي چې که یادې اداري دولتي شرکتونه او تصدۍ رغولي وای، نو اوس به موږ د صنعت په برخه کې ډېر پرمختګ کړی وای. د دوی دا نظر پر ځای دی. په رښـتیا هم د کابل تیرې اداري ته له بهر څخه په میلیاردونو ډالر راغلل، خو یا شـخصي جیبونو ته ولوېدل او یا هم د بهرنیانو له لوري له یوه دوران وروسـته بېرته له افغانستان څخه و ایسـتل شول. هغه بنسټیز کارونه چې کولای شول افغانستان په اقتصادي لحاظ په پښو ودروي ترسره نه شول. ددې اقتصادي او بنسـټیزو چارو څخه یو هم همدا دولتي شرکتونه او تصدۍ وې چې کولای شـول د افغانسـتان صنعت ته

وده ورکړي. خو د توقع برخلاف دا کار ترسره نه شــو، نه یوازې دا چې ترسره نه شــو، بلکې هڅه یې دا وه چې د دولتي شرکتونــه او تصدی په بشــپړ ډول له منځه یوړول شي. ولې سره له دې چې اســلامي امارت پــه هغه کچه امکانات لکه ځنګــه چــې د کابل تیرې اداري درلــودل، په لاس کې نه لري، خو د دې باوجود یې پــه دې کمو امکاناتو تر دې مهاله ۱۳ هغــه دولتــي شرکتونه چې چارې یې په ټپه ولاړې وې، بیرته فعال کــړل او اوس‌مهال تولیدات لري. د دې ترځنګ یې د دولتي شرکتونو او تصدیو د ښــه مدیریت او انســجام په موخه خپلواکه اداره رامنځته کړه. د دې اداري د جوړېدو په مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په افغانستان کې د دولتي تصدیو او شرکتونو فعالیتونه زیات اغېزناک وو. د تېرې قمري پېړۍ تر وروســتۍ لســیزې پورې دولتي تصدیو او شرکتونو تر ٦٠ سلنې پورې ملي بودیجه برابروله او خدمات یې تر خصوصي سکټور لوړ وو. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «آن هغه خدمات چې خصوصي ســکټور به یې په ترسره کولو کې پاتې راغی، دولتي تصدیو او شرکتونو به په پوره مســلکیتوب او قوت سره ترسره کول.» د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، له بده مرغه له هغه وروسته د افغانستان د نورو برخو تــر څنګ دولتي شرکتونو او تصدیو ته هم ډېر زیان ورســېد. په تېرو شلوېښــتو کلونو کــې یادو شرکتونو ته چا سر هم ور ښکاره نه کړ. محترم ملا صاحب د اسلامي امارت له لوري د ډېرى دولتي شرکتونو بېرته فعالېدو ته په اشارې سره وویل، د اســلامي امــارت په راتــګ او د مالیې وزارت په هڅو ډېری شرکتونه بېرته فعال او پــه عوایدو کې یې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. له دې څخه معلومه شــوه چې اســلامي امارت د هېواد پرمختګ ته ژمن دی او هڅه کوي چې افغانستان په هر ډګر کې د پرمختګ په لوري بوځي. اقتصادي یې غښتلی او صنعت یې په پښو ودروي.

**دربیم**؛ یو شــمېر کســانو بیا د دولتي شرکتونو د چارو د لا ښه والي په موخه د خپلواکې اداري رامنځته کېدل ستایلي، خو د دې ترڅنګ یې له اسلامي امارت څخه غوښتي چې د هېواد زیربناوو جوړولو ته دې هم پاملرنه وکړي. افغانستان داســې یو هېواد دی چې شــاوخوا څلور لســیزې جګړه پکې روانــه وه. دې جګړو ټولې زیربناوې یا لــه بیخه نړولې او یا یې هم ســخت زیان ورته اړولی دی. کوم هېواد چې زیربناوې ونه لري او یا یې څوک دې برخې ته پاملرنه ونه کړي، نو پرمختګ یې هم ناشــونی دی. اســلامي امارت په همدې موخه د زیربناوو جوړولو او رغولو ته لومړیتوب ورکړی دی. دا مهال د هېواد په کچه د صنعت په ګډون د کرنې، اوبولګولو، برېښنا تولید، ترانسپورټ، لویو لارو په څېر زیربناوو په برخه کې عملا کار روان دی. د اوبو او برېښــنا بندونو، کانالونو، لمریزې برېښــنا تولید، لویو لارو بیارغونې په برخه کې پروژې پلــې او یا هــم د پلي کېدو په حال کې دي. د دولتي شرکتونو او تصدیو بېرته فعالول د زیربناوو جوړولو په برخه کې بل ستر ګام دی چې د اسلامي امارت لوري پورته شو. همدا اوس چې په هېواد کې کومې سترې پروژې پیل شوې دي، په بشپړېدو سره به یې افغانستان په هره برخه کې پرمختګ وکړي.

## پایله

زموږ له پورتنۍ ارزونې دا راته په ډاګه کيږي چې هېوادوال د افغانستان د پرمختګ او هوساینې په برخه کې د اسلامي امارت له لوري پورته شوي ګامونه ستايي. دوی ډېر هیله‌من ښکاري او داسې انګیري چې اسلامي امارت به په لنډ وخت کې افغانستان له اقتصادي پلوه په پښو ودروي. که چیرې د اسلامي امارت فعالیتونو او هلو ځلو ته ځیر شو، نو په رښتیا هم په دې کم وخت کې یې داسې بنسټیز کارونه ترسره کړل، چې ساری یې په تیرو څو لسیزو کې نه تر سترګو کیږي. که هغو ټولو ته اشــاره کوو، نو خبره به یو څه اوږده شي، دلته به د اســلامي امارت له لوري د دولتي شرکتونو او تصدیو د انســجام خپلواکې اداري جوړېدو ته اشــاره وکړو. افغانستان په تیرو شاوخوا څلورو لسیزو کې سخت زیانونه ولیدل. د زیربناوو په ګډون یې د صنعت برخه هم له دې زیان څخه خوندي پاتې نه شــوه. د خصوصي ســکټور له لوري د جوړو شــویو صنعتي فابریکو ترڅنګ دولتي صنعتي تصدۍ او شرکتونه هم د همدې ناخوالو او جګړو په اور کې وســوځیدل. هرڅه یې له منځه ولاړل او ددې برخې فعالیتونه په بشپړ ډول ودرېدل. خو د اسلامي امارت په راتګ سره، د نورو برخو ترڅنګ د صنعت برخې ته پوره پاملرنه وشــوه. د هېواد په کچه غیر فعالې دولتي تصدۍ او شرکتونه بیرته فعال شــول. اسلامي امارت هڅه کوي چې د دولتي شرکتونو د تولید کچه لوړه کړي، د دې شرکتونو د تولیداتو په زیاتوالي سره به له یوه لوري د هېواد په اقتصادي وده کې چټکتیا رامنځته شي او له بل لوري به په بازار کې سالم رقابت ته لار هواره شي. دغه دواړه چارې د هېواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کې رغنده رول لوبولی شي.

# د دوه ميلياردو افغانيو په ارزښت د ترانسپورټ د درېيو پروژو تړونونه لاسليک شول



**سريزه**

دا يو حقيقت دی، کوم حکومتونه چې ژمن او متعهد وي، د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته وفادار وي، هغه بيا کولای شي هېواد د پرمختګ په لور بوځي. زحمت وباسي، خولې و بهوي او ارام ژوند ته ځښ ور واړوي او په پايله کې راتلونکي نسل ته سوکاله، ارامه او پرمختللي ژوند برابر کړي. وطن د نورو له احتياج څخه خلاص او د هغو هېوادونو په ليکه کې يې ودروي چې نور يې مرستو ته لاس وراوږد کړي او نور هېوادونه د ځان پر وړاندې احتياج کړي. اسلامي امارت د همدې کړنلارې په غوره کولو سره تر دې مهاله په بېلا بېلو سکتورونو کې مثبتې لاسته راوړنې درلودلې دي. له دې سکتورونو څخه يو هم د ترانسپورت سکتور دی. د ترانسپورت او ترانزيټ سکتور يو له ډېرو مهمو سکتورونو څخه ګڼل کېږي چې کولای شي د ملتونو د اقتصادي ودې او د خلکو د ټولنيزې هوساينې په برخه کې رغنده رول ترسره کړي. اسلامي امارت ددې سکتور اهميت ته په پاملرنې سره هڅه کړې ده چې دا برخه پياوړې او زېربناوې يې ورغوي. په همدې موخه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان لمريز کال د دلوې مياشتې په ۱۱مه نېټه د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ د شاوخوا دوه ميليارده افغانيو په ارزښت د درېيو پروژو تړونونه لاسليک شول. په هغو مراسمو کې چې په همدې موخه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې جوړ شوي وو، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دغه پروژې د معياري ترانسپورټ د


رامنځته کېدو او ددې برخې د پرمختګ په برخه کې مهمې وبللې او له قراردادي شرکتونو يې وغوښتل چې خپل کارونه په ښه کیفیت او ټاکلي وخت پای ته ورسوي. دغه پروژې د کابل هوايي ډګر کې د پارکېنګ او انتظار خونې، د فارياب ولايت د آقينې بندر د تيرپارک او د هرات ولايت د ګذرې ترمينل جوړول دي چې ټول لګښت يې شاوخوا دوه ميلیارده افغانيو ته رسيږي. ددغو پروژو په عملي کېدو سره به له يوه لوري هېوادوالو ته معياري ترانسپورټي خدمتونه وړاندې او له بل لوري به زرګونو هېوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شي.

## د دوه میلیاردو افغانیو په ارزښت د ترانسپورټ د درېیو پروژو ترړونونو لاسلیکېدو موخه:


موخه يې په هېواد کې د معياري ترانسپورټ رامنځته کېدل او په دې برخه کې سوداګرو او هېوادوالو ته د اسانتياوو برابرېدل دي.

## په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د دوه مېلياردو افغانيو په ارزښت د ترانسپورټ د درېيو پروژو تړونونو لاسليکېدو» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**يادونه:** ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د دوه مېلياردو افغانيو په ارزښت د ترانسپورټ د درېيو پروژو تړونونو لاسليکېدو په اړه يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### ټویټرپاڼې





### ویاندویان





### ویبپاڼې





### ورځپاڼې





### راډیوګانې



## تلویزیونونه





## په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ویبپاڼې





### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د دوه ميلياردو افغانيو په ارزښت د ترانسپورټ د درېيو پروژو تړونونو لاسليکېدو خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتيا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نيوکې او وړانديزونه شريک کړي.

## افغانستان کې له ټولنيزو شبکو د ګټې اخيستنې واقعيت:

که په ټولنيزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعاليت وڅېړو، نو وبه وينو چې په افغانستان کې زياتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بيا تر ډېره بريده رسمي- حکومتي مسوولين او د سياسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعاليت لري. خو د رسنيو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنيزې شبکې او همدارنګه د سياسي، اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

د دوه ميلياردو افغانيو په ارزښت د ترانسپورټ د درېيو پروژو تړونونو لاسليکېدو خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو، ويانډويانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنيو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۷۹۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۵۳ مثبت دي. ۲۸ منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ۹۵ ٪، منفي ۴ ٪ او سالم وړانديزونه ۱ ٪ دي.

۲. د دوه ميلياردو افغانيو په ارزښت د ترانسپورټ د درېيو پروژو تړونونو لاسليکېدو خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ويبپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۳۸۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۳۴ مثبت او ۳۳ منفي او ۱۶ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۷ ٪، منفي نظرونه ۹ ٪ او سالم وړانديزونه ۴ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله دولتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۵، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۸۷ ده. په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په خصوصي رسنيو کې د منفي نظرونو سلنه ۹ او په دولتي هغو کې بيا ۴ ده. که په دولتي او خصوصي رسنيو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۰۸۷ مثبت نظرونه، ٦۱ منفي نظرونه او ۲۷ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۳٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړانديزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنيو په پرتله په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل يې څه دی؟

يو لامل يې دادی چې دغه خبر په پراخه کچه د رسنيو له لوري خپور شوی دی. بله دا چې په دې خبر کې د هېواد د ترانسپورت سکټور کې پرمختګونو ته د هېوادوالو هيلې زياتېږي. نو طبيعي خبره ده چې په اړه به يې مثبت نظرونه هم زيات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه يې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

- د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.
- هيله من يوو چې د غور د خلکو غږ هم واورېدل شي او هغه روځ راورسيږي چې موږ د غور ولايت د سړک د چارو پيل په خپلو سترګو ووينو.
- ددې پروژو په عملي کېدو سره به ان شاءالله د افغانستان د ترانسپورټ په سکټور مثبت تغييرات راشي او موږ به د يوه معياري ترانسپورت څښتنان شوو.
- که چېرې د ترانسپورت د سکټور په څېر داسې پروژې په نورو سکټورونو کې هم عملي شي، نو په لنډه موده کې به د سترو پرمختګونو شاهدان يوو.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی**؛ زموږ يو شمېر هېوادوالو د غور ولايت د سړک جوړولو غوښتنه کړې ده او ويلي يې دي چې ددې سړک چارې دې هم پيل شي. دا د هر افغان حق دی چې له خپل حکومت څخه د خپلې سيمې د پرمختګ په برخه کې د پروژو د عملي کېدو غوښتنه وکړي. اسلامي امارت چې د ټولو افغانانو حکومت دی او ټول پکې خپل ځان ويني، نو اسلامي امارت هم له توپير پرته د افغانستان د هرې سيمې او ولايت او په ټوله کې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ ترڅنګ د خپلو وګړو د هوساينې او سوکالۍ له پاره شپه او ورځ يوه کړې ده. اسلامي امارت د متوازنې بيارغونې فورمول عملي کوي او هڅه يې داده چې د بيارغونې او عام المنفعه پروژو په عملي کېدو سره د هېواد په هره سيمه کې د خلکو ستونزې او مشکلات له منځه يوسي. که موږ او تاسو وګورو په تېرو شاوخوا دوو کلونو کې اسلامي امارت د هېواد په کچه له لويو لارو نيولې بيا د ولايتونو او

ان ولسوالیو سړکونو رغونې ته مخه کړې ده. خو اسلامي امارت چې اوسمهال په زیاته کچه مالي امکانات په لاس کې نه لري، نو د بیارغونې له پاره یې خپل پلانونه داسې چمتو کړي دي، چې وکولای شي، هغو برخو ته لومړیتوب ورکړي، چې هغه د هېواد پر سوداګرۍ او اقتصادي ټیکاو زیاته اغېزه لري. د وخت او امکاناتو په برابرېدو سره به د غور ولایت سړک هم ورغول شي او له دې پلوه دې د یاد ولایت اوسیدونکي تشویش نه کوي، له پامه نه غورځول کیږي.

✍ **دویم**؛ ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ددې پروژو عملي کېدل ستایلي او ویلي یې دي چې په پلي کېدو سره به یې زموږ ترانسپورت لا معیاري شي. په نننۍ نړۍ کې ترانسپورټ په تېره بیا معیاري ترانسپورت ډېر مهم او اړین دی. ځکه ترانسپورټ د توکو او مسافرو په لېږد کې مهم رول لري او له دې سره سوداګري او ترانزیټ دواړه پرمختګ او ترقي کوي. تر هغې چې یو هېواد معیاري ترانسپورټي خدمات وړاندې نه کړي، نه شي کولای خپلې سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي، نو اړینه ده چې دغه سکټور په نړیوالو معیارونو برابر ورغول شي. اسلامي امارت د ترانسپورټ همدې اهمیت ته په کتو سره هڅه کوي چې د هېواد ځمکنۍ او هوایي ترانسپورټ له پاره ټولې اسانتیاوې برابرې او له دې لارې لومړۍ خپله سوداګري پراخه او ورپسې د ملي عوایدو په کچه کې زیاتوالی راولي. له همدې امله یې د ترانسپورټ سکټور په برخه کې بېلا بېلې پروژې پلان او عملي کوي. د معیاري ترانسپورټ په رامنځته کېدو سره به موږ هم د سوداګرۍ او هم د ترانزیټ په برخه کې پوره پرمختګ وکړو او له دې سره به مو اقتصادي وده هم ګړندۍ شي.

✍ **دریېم**؛ یو شمېر هېوادوالو بیا په خپلو نظرونو کې ویلي، که چېرې د ترانسپورټ د سکټور په څېر داسې پروژې په نورو سکټورونو کې هم عملي شي، نو په لنډه موده کې به د سترو پرمختګونو شاهدان یوو. دا یو واقعیت دی چې د تېرو جګړو پرمهال د افغانستان ټولې زیربناوې او سکټورونه زیانمن شوي دي او تر هغې چې ونه رغول شي، نو د هېواد پرمختګ هم ناشونی دی. له همدې امله اسلامي امارت خپله ټوله توجه پر دې ور ټوله کړې ده چې وکولای شي د هېواد زېربناوې او بېلا بېل سکټورونه ورغوي او له دې لارې په هره برخه کې د هېواد پرمختګ ته لاره هواره کړي. اسلامي امارت په دې شاوخوا دوو کالو کې د هېواد د زیربناوو په رغولو لاس پورې کړی دی او په دې برخو کې یې سترې پروژې پلان او پلې کړې دي. د سوداګرۍ، صنعت، کرنې، برېښنا، ترانسپورت، کانونو او دې ته ورته نورو سکټورونو کې یې خپلو هڅو ته دوام ورکړی او یو لړ پروژې یې عملي کړې دي. له دې څخه به د بېلګې په ډول د ترانسپورټ او صنعت برخې ته اشاره وکړو. د ترانسپورټ په برخه کې همدا پورته پروژې او د صنعت په برخه کې د ۱۳ هغو دولتي شرکتونو بېرته فعالول چې فعالیتونه یې په ټپه ولاړ و. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د هرې برخې په پښو درولو ته ژمن دی او په دې برخه کې یې بېلا بېلې پروژې عملي کړې او پر ځینو یې کار روان دی.

## پایله

ننني نړۍ د یوه کلي حیثیت غوره کړی دی، داسې لکه په یوه کلي کې چې خلک یو له بل سره اړیکه لري او د یوې پیښې په رامنځته کېدو سره په څو شېبو کې خبرېږي، همداسې نن سبا نړۍ له هره پلوه یو له بل سره نښتې ده. هغه که د ترانسپورټ له پلوه ده یا د مخابراتو، اقتصاد او سیاست. په نړۍ کې ترانسپورټي سکټور یو له مهمو سکټورونو څخه ګڼل کېږي چې هره ورځ په په سلګونو میلیونو تنه وګړي او په میلیونونو ټنه سوداګریز توکي له یوه ځای څخه بل ځای ته لیږدوي. د نړۍ سوداګري تر ډېره بریده د ځمکني او سمندري ترانسپورټ له لارې ترسره کیږي چې دا دواړه هم خوندي او هم ارزانه دي. اسلامي امارت همدې ټکي ته په کتو غواړي د افغانستان ترانسپورټي سکټور چې د جګړو له امله یې سخت زیان لیدلی دی، معیاري کړي. همدې ټکي ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ د دربیو پروژو تړونونو د لاسلیک کېدو غونډې ته د خپلو خبرو پرمهال اشاره وکړه او ویې ویل دغه پروژې د معیاري ترانسپورټ د رامنځته کېدو او ددې برخې د پرمختګ په برخه کې مهمې دي او له قراردادي شرکتونو یې وغوښتل چې خپل کارونه په ښه کیفیت او ټاکلي وخت پای ته ورسوي. له دې څخه معلومه شوه چې اسلامي امارت د معیاري ترانسپورټ رامنځته کېدو ته ژمن دی او دې سکټور ته یې په خپلو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی دی. د معیاري ترانسپورټ په رامنځته کېدو سره به زموږ سوداګري نړیواله او د افغانستان له لارې به د آسیا د زیاترو هېوادونو د ترانزیټ کچه لوړه شي. په دې سره به زموږ اقتصاد هم غوړېږي.

# د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصبولو طرحه منظوره شوه



## سریزه

ګمرک د مالي او سوداګریزو سیاستونو ترمنځ د اړیکو پل او د نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې یوه مهمه او اغیزناکه اداره ده. نو له دې امله ددې سیاستونو پلي کول یوه موثر ګمرک ته اړتیا لري. په نننۍ نړۍ کې ګمرکونه د عوایدو راغونډولو، د صادراتو او وارداتو کنټرول او د بهرنیو تولیداتو پر وړاندې د کورنیو صنایعو د ملاتړ ترڅنګ د زیانمنو سوداګریزو توکو څخه د ټولنې د ژغورنې، د لرغونو اثارو د خوندیتوب، د توکو د قاچاق پر وړاندې د مبارزې او دې ورته یو لړ نورې مهمې دندې هم پرمخ بیایي. دا چې نن سبا د ټکنالوژۍ دوران دی، نو له دې سره په هر څه کې بدلونونه رامنځته شوي او دې چارې د هېوادونو د پرمختګ پر بهیر، اقتصادي اړیکو او سوداګریزې راکړې ورکړې هم ژوره اغیزه کړې ده، نو له دې امله دولتونه اړ دي چې د نورو ادارو ترڅنګ خپل ګمرکونه هم عصري او په نوي ټکنالوژۍ سمبال کړي. هڅه یې داده چې په دې برخه کې په پرمختګ سره خپله سوداګري ګړندۍ، د عوایدو کچه لوړه او سوداګرو ته بشپړې اسانتیاوې رامنځته کړي. اسلامي امارت هم د ګمرکونو د عصري او له نړیوالو معیارونو سره ددې برخې د برابرولو په برخه کې ګامونه پورته کړي دي. په همدې موخه د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې د ۱۴۰۲ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۱۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د خصوصي سکټور له لوري د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصب، د کور او بهر جوړولو وزارت پر اقتصادي طرحه او یوشمېر نورو موضوعاتو بحث وشو. په غونډه کې چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې


وه، تر هراړخیز بحث وروسته د خصوصي سکټور له لوري د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د سکنرونو نصبولو طرحه منظوره شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د عامه – خصوصي مشارکت له لارې پر دې پروژه شاوخوا ۸ میلیارده افغانۍ پانګونه کوي. د اقتصادي کمېسیون په دغه غونډه کې د کور او ښار جوړولو وزارت پر اقتصادي طرحه هم بحث وشو.

### د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصبولو طرحې د منظورۍ موخه:


موخه یې په هېواد کې د معیاري ګمرکونو رامنځته کېدل، د سوداګریزو پروسو چټک کول، د عوایدو د کچې لوړول او په دې برخه کې سوداګرو ته د اسانتیاوو برابرېدل دي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصبولو طرحې د منظورۍ» خبر یې خپور کړی دی:


### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:** ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصبولو طرحې د منظورۍ په اړه یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه راپور خپور کړی دی.


# په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### آژانسونه





### ټویټرپاڼې





### ویاندویان





### راډیوګانې





### ورځپاڼې




### تلویزیونونه




## په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ویبپاڼې





### آژانسونه




## ورځپاڼې




## خصـوصي او دولتـي رسـنیو کــې د خلکـو نظرونــو ارزونــې ټولګــه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصبولو طرحې د منظورۍ خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت:

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه اوفعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پرځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نادولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

*موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو ووېشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:*

۱. د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصبولو طرحې د منظورۍ خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویاندویانو، خبري اژانسونو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۸۰۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۳۳ مثبت دي. ۵۱ منفي نظرونه او ۱۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۲ ٪، منفي ٦ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

۲. د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکټرونیکي سکنرونو د نصبولو طرحې د منظورۍ خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ویبپاڼو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۴۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۰۲ مثبت او ۲۹ منفي او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۹۳ ٪، منفي نظرونه ۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د دولتي رسنیو په پرتله خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳، خو دولتي رسنیو کې دا سلنه ۹۲ ده. په دولتي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده، په دولتي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ٦ او په خصوصي هغو کې بیا ۵ ده. که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۲۳۵ مثبت نظرونه، ۸۰ منفي نظرونه او ۲۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۹۲٪ مثبت نظرونه، ٦٪ منفي نظرونه او ۲ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنيو په پرتله په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل يې څه دی؟

يو لامل يې دادی چې دغه خبر په پراخه کچه د رسنيو له لوري خپور شوی دی. بله دا چې په دې خبر کې د هېواد د ګمرکونو عصري کېدو او له دې لارې د عوايدو په لوړېدو کې پرمختګونو ته د هېوادوالو هيلې زياتېږي. نو طبيعي خبره ده چې په اړه به يې مثبت نظرونه هم زيات وي. له دې څخه جوتېږي، د حکومت له لوري چې هر ګام پورته کېږي د خلکو له هرکلي سره مخ او په اړه يې خپل نظرونه څرګندوي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د ګوتو په شمېر نظرونه چې په هغو کې مثبت، منفي نظرونه او وړانديزونه شامل دي، راوړو، ځکه د ټولو نظرونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده، د نظرونو شمېر لسګونو بلکې سلګونو ته رسېږي.

- د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدا لغني برادر اخوند د هېواد يو رښتنی اتل او خدمتګار شخصيت دی الله ج دې سر لوړی او کامياب لري. نوموړي تر دې مهاله د هېواد د اقتصادي ثبات او پرمختګ له پاره ډېرې هلې ځلې کړې او نتيجه يې هم ورکړې ده.
- د دې الکترونيکي سکنرونو په نصبولو سره به زموږ ګمرکونه په عصري وسايلو سمبال شي. د هېواد سوداګريزې پروسې به چټکې او په عوايدو کې به مو د پام وړ لوړوالی راشي. دا يو پر ځای اقدام دی.
- که چيرې په همدې ډول په ټولو برخو کې د الکترونيکي حکومتولۍ له پاره ګامونه پورته شي، نو زموږ اداري او مالي سيستم به لا غښتلی او پياوړی شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ يو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد يو رښتنی اتل او خدمتګار بللی دی او ويلي يې دي چې تر دې مهاله يې د هېواد د اقتصادي ثبات او پرمختګ له پاره ډېرې هلې ځلې کړې او نتيجه يې هم ورکړې ده. د دوی نظر د قدر وړ دی، په رښتيا هم د اسلامي امارت هر مسوول، د خپل هېواد د پرمختګ او خلکو ته د هوسا ژوند برابرولو په برخه کې له هېڅ راز هلو ځلو ډډه نه ده کړې. ټول دې ته ژمن او متعهد دي چې افغانستان نور له سياسي، اقتصادي او ټولنيزو کړکېچونو څخه راوباسي او د پرمختګ او ترقۍ په لور يې روان کړي. موږ تاسو د اسلامي امارت له مسوولينو بيا بيا اوريدلي دي چې دوی وايي، يوازينۍ هيله او ارزو يې د هېواد ابادي، پرمختګ او سوکالي ده. هڅه يې داده چې په خپل زيار او کوښښ دا وروسته پاتې هېواد د نړۍ د پرمختللو هېوادونو

پـه کتـار کـې ودروي او پـه نړیوالـه کچه د یوه پرمختللي هېـواد په توګه پر نړیوال سـتېج ودرېږي. د همدې ژمنو مسـوولینو لـه جملـې څخـه یو هم د ریاسـت الوزراء اقتصادي مرسـتیال محـترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند دی. نوموړي ته د اسـلامي امارت له لوري د اقتصادي چارو مسـوولیت ورسـپارل شـوی دی او اقتصادي مرستیال هم دا مسـوولیت نـه یـوازې دا چـې پـه ورین تندي منلـی، بلکې له هغې ورځې چې دا مسـوولیت ته یې اوږه ورکړې ده، بیـا تـر نـن پـورې یـې په دې برخـه کې پرېکنـده ګامونه پورتـه کـړي دي او د اقتصادي پرمختګ لـه پاره یې بېلا بېل پلانونه عملي کړي دي. په هېواد کې موږ او تاسـو د هغو زیربناوو د رغولو شـاهدان یوو چې پر مټ یې اقتصاد پیاوړی کېږي. په هر اقتصادي سـکټور کې پرمختګونه شـوي، پروژې پیل او پلې شـوې دي.

✍ **دویـم؛** ځینـو کسـانو پـه خپلـو نظرونو کې بیا پـه ګمرکونو کې د عصري او برېښـنا وسـایلو نصبول مهم اقدام بللـی او ویـلي یـې دي چـې لـه دې سره به سـوداګریزې پروسـې چټکې او عوایـد به لوړ شي. په رښـتیا هم دا یو مهم ګام دی، ځکه د افغانسـتان ګمرکي سیسـتم پخوانی دی او نن ورځ که یو هېواد غواړي چې سـوداګري یې پراختیا ومومي، د صادراتو او وارداتو په پروسـه کې یې چټکتیا راشي او له دې لارې خپل عواید زیات کړي، نو اړینه ده چې ګمرکونه په عصري وسـایلو سـمبال کړي. هر څومره چې ګمرکي پروسـې اسـانه او چټکې وي، په هماغـه کچـه سـوداګري زیاتېږي، د سـوداګرۍ په زیاتېـدو سره اقتصادي وده رامنځته کېږي. اسـلامي امارت د ګمرکونو اهمیت ته په پاملرنې سره هڅه پیل کړې ده چې دغه برخه په نوې ټکنالوژۍ سـمباله کړي او وکولای شي سـوداګرو ته پوره اسـانتیاوې رامنځته او سـوداګریزې پروسـې ګړندۍ کړي. په همدې موخه یې د هېواد په ۱۲ مهمـو ګمرکـي بندرونـو کـې د برېښـنایي سـکنرونو د نصبولو طـرح منظوره کړه. ددې طرحې پـه عملي کېدو سره بـه لـه یـوه لـوري د افغان سـوداګرو سـتونزې راکمې شي او لـه بل لوري به لـه هېواد څخه تـرسره کېدونکې ترانزیټ وده وکـړي. دغـه دواړه بیـا کـولای شي، پـه ګمرکونو کـې عواید زیـات او ورسره زموږ اقتصـادي وده هم چټکه شي.

✍ **درېیم؛** یو شـمیر کسـانو بیا وړاندیز کړی دی چې که چیرې په همدې ډول په ټولو برخو کې د الکترونیکي حکومتولـۍ لـه پـاره ګامونـه پورتـه شي، نو زموږ اداري او مالي سیسـتم به لا غښـتلی او پیاوړی شي.  د اوسـنۍ نـړۍ پـه زیاتـرو هېوادونـو کـې پخواني اداري او مالي سیسـتمونه له منځه تللـي دي او برېښـنایي حکومتولۍ ته مخه شـوې وه. دا ځکه چې د دې حکومتولۍ پر مټ د حکومتي پروسـو په برخه کې د چټکتیا ترڅنګ شـفافیت هـم رامنځتـه کېږي. اسـلامي امارت د برېښـنایي حکومتولۍ ارزښـت ته په پاملرنې سره غـواړي د حکومت ټولې اړونـدې اداري او مـالي پروسـې برېښـنایي کـړي او پـه دې برخو کې لـه نـوې او پرمختللې ټکنالـوژۍ ګټه پورته کـړي. د هېـواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د سـکنرونو نصب یې یوه ښـه بیلګه ده.

## پایله

افغانستان د نړۍ یو له هغو هېوادونو څخه دی چې څلور لسیزې د بېلا بېلو ښکیلاکګرو له لوري پرې یرغل شوی دی او په دې موده کې پر دې نه دی توانیدلی چې د نړۍ د پرمختګ له کاروان سره مل شي. همدا لامل دی چې لا یې هم ډیری حکومتي سیستمونه زاړه او یا هم له کارلویدلي دي. خو اوس چې اسلامي امارت راغلی، هڅه یې داده چې د هېواد هغه برخې چې کولای شي پر اقتصادي وده مثبته اغیزه وکړي، په نوي او عصري ډول ورغوي. د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکترونیکي سکنرونو نصبول یې ددې چارو یوه برخه ده. په دې سره به له یوه لوري په ګمرکونو کې د سوداګریزو او صادراتي توکو په لیږد کې چټکتیا رامنځته شي، له بل لوري چې هر څومره د دې توکو په حجم کې زیاتوالی راځي، په هماغه کچه به عواید هم ورسره لوړ شي. د عوایدو په لوړېدو سره به بیا د هېواد اقتصاد ورځ تربلې وده وکړي او له دې سره به په لنډه موده کې اقتصادي ستونزو ته پای ورکړل شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبـــوعـــاتـــو ریـاست



@FDPM_AFG www.dpmea.gov.af @FDPM_AFG